PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت | دویم کال، ۸۵ مه ګڼه، | چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لیندی ۱۰ مه | د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالحجة ۲۴ مه | د ۲۰۱۰ م د دسمبر لمړۍ

الهي لارښوونې

اى مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښایي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالي او تنګي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینګ ودرېږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نومولي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ۷٦ - ۸۸)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:
یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه دې پخپله پر هغه ظلم کوي او نه دې بل ظالم ته سپاري. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور اړتیاوې پوره کوي نو الله تعالی دهغه اړتیاوې پوره کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور تکلیف لرې کوي نو الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه تکلیف لرې کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پر عیب پرده اچوي الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه پر عیبونو پرده اچوي. (بخاري)

سعودي عربستان هڅه کوي چې طالبان خبرو ته تیار کړي

تاند ویب پاڼه:
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د روان ۲۰۱۰ کال د فبروری له یوه سند سره سم، چې ویکي لیکس له لکونو نورو سندونو سره یوځای خپور کړی، سعودي عربستان هڅه کړې چې له افغان وسله والو طالبانو سره خبرې وکړي.
په ریاض کې د امریکا د سفارت په یوه سند کې، چې د فبروری په دوهمه نېټه ، سعودي عربستان ته د مېرمن هیلري کلنټن تر سفر مخکې د هغې د مالوماتو لپاره استول شوی، ویل شوي: "پاچا عبدالله تراوسه پورې د امریکا له حکومت سره د طالبانو د خبرو د منځګړتوب لپاره د سعودي رول نه دی تایید کړی."
په سند کې راغلي: "دسعودي عربستان د استخباراتو مشرشهزاده مقرین بن عبدالعزیز ګڼو امریکایي چارواکو ته ، چې په وروستیو کې یې دغه هیواد ته سفرونه

پاتې ٤ مخ

د "معنوی صیب" په مشرۍ کې "بې معنا" ټولټاکنې

د انتخاباتو کمیسیون خپلواک دی؛ خو غیر مسؤول او واجب الاحترام نه دی،
ددې کمیسیون خپلواکي د قانون په چوکاټ کې ده

دویم مخ

یک پولیس افغان شش عسکر خارجی را بقتل رساند

جلال آباد، رسنی:
بر اساس گزارش های رسیده، یک پولیس افغان در ولایت ننگرهار عساکر خارجی را هدف تیراندازی قرار داد که بر اثر آن شش عسکر خارجی کشته شدند.
یک منبع آگاه پولیس ولایت ننگر هار می گوید: این حمله در قرارگاه و محل آموزش نیروهای پولیس سرحدی افغان در ولسوالی "پچیرآگام" ولایت ننگرهار انجام شده است.
اغلب عساکر خارجی در ولایت ننگرهار امریکایی هستند.
تاکنون هیچ گروهی مسوولیت این حمله را بر عهده نگرفته است.
جامعه جهانی و افغانستان به تازگی توافق کردند که تا سال ۲۰۱۴ نیروهای افغان آموزش بیشتری دیده و تجهیز شوند تا بتوانند مسوولیت های امنیتی را از نیروهای خارجی تحویل بگیرند.
به عقیده کا رشناسان چنین حملاتی باعث کندی این روند خواهد شد.

احمد ضیاء مسعود معاون سابق رئیس جمهور کرزی حین یک سفر خود ۵۲ میلیون دالر را به دوبی انتقال میداد

منابع خبری جهان:
بر اساس اسناد جدیدی ویکی لیکس که روز دوشنبه انتشار یافت، فساد اداری در دولت کابل به اندازه یی بیداد میکند که احمد ضیاء مسعود معاون سابق حامد کرزی رییس جمهور افغانستان حین یک سفرش با بکس مملو از ۵۲ میلیون دالر وارد امارات متحده عربی شد و اداره کنترول مواد مخدر آن کشور پول نامبرده را با موصوف کشف کرد. بر اساس معلومات سفارت امریکا پول مذکور دوباره به موصوف داده شد.
آقای احمد ضیاء مسعود معاون حامد کرزی در حالی با بکس ۵۲ میلیون

بقیه در صفحه ۴

قرارداد جدید ترانزیت، ۹۰ در صد به نفع پاکستان، ۱۰ در صد به نفع افغانستان

کابل، رسنی:
مقامات و تجار افغانستان می گویند، براساس قرارداد جدید ترانزیت میان افغانستان و پاکستان تولیدات افغانی از راه پاکستان به هند انتقال می یابد، اما در بر گشت تجار افغان نمی توانند تولیدات هندوستان را به کشور وارد کنند.
از سوی دیگر مقامات این قرارداد را بیشتر به نفع پاکستان می دانند.
بر اساس این قرارداد جدید که به حمایت ایالات متحده امریکا صورت گرفت، سر از سال آینده میلادی لاری های باربری تجار افغان بدون پرداخت محصول مالی از خاک پاکستان عبور کرده برای فروش امتعه شان به سرحدات هند می روند، اما در راه بر گشت این لاری ها نمی توانند که تولیدات هندی را با خود انتقال دهند.
در عوض تجار افغان می توانند تولیداتی را به افغانستان انتقال دهند که در پاکستان ساخته شده و یا هم به آن جا انتقال یافته است و به این ترتیب تجار پاکستانی در بازاری جای پایش را از دست نمی دهد که فروشات سالانه در آن به ملیاردها دالر بالغ می شود.
مزمل شینواری رییس تجارت بین المللی در وزارت تجارت و صنایع افغانستان به آژانس

بقیه در صفحه ۴

د ویکي لیکس خپرو شوو اسنادو نړۍ هکه پکه کړه

خبري رسنۍ:
ویکي لیکس ویب سایټ په دې وروستیو کې د امریکا دوه سوه او پنځوس زره پټ ډیپلوماتیک اسناد افشا کړل.
په داسې حال کې چې د امریکایي چارواکو له لوري پر دې انټرنټي پاڼې اعتراضونه شوي، دې پاڼې دغه اقدام کړی دی.
په تازه خپرو اسنادو کې، د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د وضعیت په باب څرګندې ارزونې شوې دي.
د ویکي لیکس له لوري یوځل بیا د امریکا دوه سوه او پنځوس زره پټ اسناد خپاره شول او ویل کېږي دې اقدام یو وار بیا واشنګټن هک حیران کړی دی.
په ټوله کې اټکل کېږي چې دغه اسناد به د امریکا پر پالیسیو زیات جدي اغېز ونه لري.

پاتې ٤ مخ

د افغانستان پېچلې جګړه د امریکا او ناټو لپاره یوه ستره ننګونه

دریم مخ

ولې یوه ښځه څو میړونه نه شي کولی؟

دریم مخ

ویکي لیکس:

کرزی کمزوری سړی، ورور یې قاچاقبر دی

آزادی راډیو:
د ولسمشر کرزي ویاند وایي د ویکي لیکس له لوري د افغانستان د جګړې په باب نوي خپاره شوي اسناد د کابل او واشنګټن پر اړیکو تاثیر نه شي کولای.
په دغو اسنادو کې ولسمشر کرزي یو کمزوری سړی او ورور یې د مخدره موادو قاچاقبر یاد شوی دی.
په ویکي لیکس ویب سایټ کې د راغلو اسنادو پر اساس هغه پټ پیغامونه چې له کابله واشنګټن ته لېږل شوي، حامد کرزی یو کمزوری ولسمشر او ورور یې د مخدره موادو قاچاقبر یاد شوی دی. په اسنادو کې ادعا شوې چې د ولسمشر کرزي یو پخوانی مرستیال له پنځوس ملیونه ډالرو سره له افغانستان تښتېدلی دی.
د ولسمشر ویاند وحید عمر د دوشنبې په ورځ په کابل کې یوې غونډې ته وویل، د دغو پټو اسنادو خپرېدل به د امریکا او افغانستان پر روابطو چې ستراتیژیک روابط دي، تاثیر ونه کړي، خو د اړتیا پر مهال به افغان دولت موضعګیري وکړي:
"موږ به دغه اسناد څېړو، د اړتیا په صورت کې به یو دریځ خپلوو، دا خینې پټ اسناد دي چې د یوه نهاد له لوري افشا شوي دي. فکر نه کوو، چې موضع ګیری ته به اړتیا پېښه شي، خو بیا

پاتې ٤ مخ

آیساف بر ادامه عملیات شبانه تأکید می کند

کابل، رسانه ها:
آیساف اجرای عملیات شبانه را به منظور جلوگیری از تلفات غیرنظامیان در کشور مؤثر می داند. جنرال جوزف بلاتز، سخنگوی نیروهای آیساف در کشور می گوید، این عملیات به طور دقیق در مناطقي که مخالفان در آن حضور دارند، به اجرا گذاشته می شود. وی گفته است: به راه انداختن عملیات شبانه در افغانستان بسیار مهم است و ما به اجرای این عملیات ادامه خواهیم داد.
بلاتز مي گوید که با اجرای عملیات شبانه کمتر از یک درصد، احتمال آسیب رسیدن به غیرنظامیان وجود دارد. مقامات آیساف در حالی بر ادامه اجرای عملیات شبانه در

بقیه در صفحه ۴

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

د شاهي بریتانيې د نړېوالو اړیکو انسټیټیوټ چهتم هاوس، په خپله ویب پاڼه په یوه مطلب کې د منځني ختیځ، په ځانګړي ډول د افغانستان او په عمومي ډول د سیمې د وضعیت په ثبات کې د سعودي عربستان پر رول خبرې کړې دي اود بحرانونو نړېوالې ډلې په خپل تازه رپوټ کې لیکلي دي چې له افغانستان څخه د بهرنیوعسکرو له وتلو سره به د دې هېواد موجوده حکومت سقوط وکړي دې دواړو نړېوالو ویب سایټونو ته مو یوه لنډه کتنه کړې، او د شهادت درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.
د بحرانونو نړېوال ګروپ:
د بحرانونو نړېوالې ډلې په خپل تازه رپوټ کې لیکلي دي چې له افغانستان څخه د بهرنیوعسکرو له وتلو سره به د دې هېواد موجوده حکومت سقوط وکړي.
د دې رپوټ په حواله ، له افغانستانه د نړېوالو ځواکونو وتل به په دې هېواد او سیمه کې د جدي امنیتي تهدیدونو لپاره لاره خلاصه کړي.
په رپوټ کې راغلي، په داسې حال کې چې په افغانستان کې تشدد مخ په زیاتېدو دې د افغانستان کورني امنیتي ځواکونه د یوې ګټورې قوې په ډول نه دي ثابت شوي.
د ملکي تلفاتو په څېر په بهرنیو او کورنیو ځواکونو کې هم تلفات زیات شوي دي او په افغانستان کې لا تر اوسه د ملي امنیت په برخه کې یوه هم اړخیزه ستراتیژي نشته.

پاتې ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ټولټاکنو د پایلو پایلې به څه وي؟

افغانستان د یوې قومي جګړې سره لاس او ګریوان دی . دې قومی جګړې ته د انتخاباتو تش په نامه خپلواک کمیسون لاره پرانیستې ده.

او ددې بحران اساسي پیل به د هغه نیتې څخه وي چې د دې جعلي ټاکنو څخه چې نامقدسی موخې یې درلودلې د لیکل شوی لست له مخې اولسي جرګه په کار پیل وکړي.

دا باید وویل شي چې زیاتره وخت د هیواد د اولس مشر حامد کرزي بې ځایه مصلحتونو هیواد په لوی لاس د بحران سره مخ کړی دی. چې پیل یې د جمهوری ریاست له ټولټاکنو وشو.

د همدې مصلحتونو په بنسټ د ملي ادارو د مشرانو ټاکل دا ډول ناوړې پایلې لري چې د موجوده نظام موجودیت یې په بشپړه توګه د ګواښ سره مخ کړی دی. ایا په دې هیواد کې د ملي او تحصیل لرونکو شخصیتونو شمیر لږ دی چې ولسمشر یې یوازې په متعصبو ډلو کې لټوي او لوړ دولتي پوستونه ورته ور کوي.

چې ښه ښکاره مثالونه یې د ټاکنو او شکایاتو، د بشري حقوقو، د سولې شورا مشرتوب ، او یا وروستی اته سفیران دي. چې ټول د حاکمو کړیو پلویان دی.

پښتانه اوس په بشپړه توګه د دولتی جوړښت څخه شړل کیږي .

پښتانه او ټول عادی اولس اوس اړ دی چې د خپلو حقوقود تامین له پاره لاس په کار شي اود اساسی قانون سره سم خپل ټول حقوق ترلاسه کړي. خو ښکاره خبره ده چې د اولس د بادرده او با نفوسه شخصیتونو اړیکې ورځ تر بلې د دولت سره شلیږي.

اولس مشر ښایی په دې ښه پوه وي چې موجوده بحران د وطن دښمنه کړیو له خوا رامنځته او همدا کړی غواړي چې ددې بحران څخه د وطن او خلکو په ضد ګټه پورته کړي. دوی غواړي له دې لارې په هیواد کې د افغان اولس تر منځ ملی یووالی له منځه یوسی او د هیواد تجزیی ته لاره هواره کړي.

همدارنګه د مغرضو ګاونډیو هیوادونو ځینې ناوړه موخې په دې هیواد کې عملي کړي.

اوس دا مسله مطرح نه ده چې کوم نوماندان اولسی جرګې ته بریالی او کوم پاتی راغلی دی بلکی اوس د افغانستان شته والي ته ګواښ مخامخ دی . اوس کیدای شی د هیواد په هره برخه کې قومی جګړې پیل شی .

په اوس مهال کې د اولس مشر دنده خورا مهمه ده او دا دده مسوولیت دی چې افغانستان وژغوري او ددې ټاکنو پایلې لغوه او باطلې اعلان کړي.

د اولسی جرګې ټولټاکنی تر هغه چې د اساسی قانون سره سم په بشپړ ډول ورته شرایط برابر شوی نه وی وځنډول شی د بلی خوا ډیره اړینه ده چې د ټولټاکنو قانون د سره وکتل شی او د هغه مواد د اساسی قانون د موادو سره مطابق کړي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده د ټاکنو سیمه باید ولایت نه بلکی د نفوس سره سم ولسوالی وټاکل شی او همدارنګه په اولسی جرګه کې د ولایتونو استازي توب د هغې د اوسیدونکو په تناسب سره وټاکل شی.

تر هغې چې د اولس د پراخو مظاهرو په ترڅ کې په اولس مشر او اوسنی اداره باندې چې د متعصبو ډلو تر ژورې اغیزې لاندې ده فشار رانه وړي تر هغې به ددې جعلي ټولټاکنو پایلې باطلی اعلان نه کړي د اولس مشر له خوا د اساسی قانون په رڼا کې ددې جعلی او د تعصبه ډکو ټولټاکنو د پایلو په نوم د اعلان شوی لست باطلول د بحران د پای ته رسولو او د قومی جګړو د مخنیوي یوازینی لاره ده.

د "معنوی صیب" په مشری کې "بې معنا" ټولټاکنې

فدا محمد فایض



که څه هم چې په انتخاباتو کې د نړۍ د لویو هېوادونو لمن هم له تقلب نه په سلو کې سل پاکه نه وي، ډېر ښه مثال یې د جورج بش او الګور ترمنځ د امریکا د جمهوری ریاست د دوه زرم کال ټولټاکنې یا انتخابات وو چې خبره یې سترې محکمې ته ورسېده، خو په درېیمه او وروسته پاتې نړۍ کې خو به زه وایم چې اصلاً دا تصور له سره غلط وي، چې څوک ووایي په سلو کې سل شفاف او بې تقلبه انتخابات وشول او یا به وشي او یا دې وشي؛ خو په افغانستان غوندې یوه غریب هېواد کې چې تازه یې په اصطلاح د دموکراتی حریم ته ګام ایښی (دا چې دموکراسی څنګه ده او څنګه نه ده دا جلا بحث غواړي) دا تمه کول چې دلته کاملاً شفاف او روښانه انتخابات ترسره شي، زما په اند له ځان غولونی وراخوا بل هېڅ نوم نه شي لرلای؛ خو بیا هم هغه د دري ژبې ددې خبرې په مصداق چې: "دزباش؛ ولی با انصاف " داسې هم نه چې هر څه ښوی تېروه. ډالر دې سر وخوري، د هر چا خوښ دي، د میا و ملا و پیر و صاحبزاده او سیدو اخندازده هم خوښ دي خو هغه د مرحوم ملنګ جان خبره:

"هر څه نه به تېر شم؛ خو ایمان نه تېرېدی نه شم "

داسې نه چې سرې دې د ډالرو په مقابل کې ټول قوانین، اصول او مقررات تر پښو لاندې کړي، او د ټولې دنیا پیغورونه دې وګټي.

تعصب (ژبنی، قومي، سمتي، ډله ییز) خو په اسلام کې د مسلمانانو ترمنځ هېڅ ځای ځایګی نه لري؛ خو په خواشینی سره په سږنیو انتخاباتو کې د "ډالر " او "تعصب "نقش پریکنده و، د ډالر خبره خو هغه ده لوی څارنوال ښاغلی محمد اسحق الکو وکړه او مرستیال یې ښاغلي رحمت الله نظري یې ببلګې او ثبوتونه وړاندې کړل دا چې وایي: "زه قاضي صیب ملامتولم؛ خو ما ځان نه ملامتاوه "دا نو بیا جلا خبره ده، د "زور "او "ضد "منطق همېشه جلا وي، دا چې د انتخاباتو خپلواک کمیسون ځانته په دومره خپلواکی قایل دی چې که اوښ له باره سره په بډه کوي څوک حق نه لري چې ورته ووایي په مخ دې څو سترګې دي، دا هم بیا جلا منطق دی. خو دلته دا پوښتنه هم پیدا کیږي، چې دا د لویې څارنوالی او مشرانو جرګې هم په دې هېواد کې چې د اعلان شویو انتخاباتو نتایج یې رد کړل څه حیثیت شته او که نه؟ او که وي نو هغه کومه دی.

ددې خبرې تضمین به څوک کوي چې د انتخاباتو د کمیسیون منسوبین به دا د ډالرو د باران په عصر کې به چې که پر ټولو نه اوري، په یو شمیر کسانو، کړیو او ډلو خو اوري، څوک هېڅ جرم او جنایت نه کوي. د انتخاباتو او شکایاتو کمیسیونونو چې د ورکړل شویو رایو تقریباً څلورمه برخه باطلی اعلان کړې ددې معنا څه ده؟ دا ښکاره اعتراف نه دی چې په انتخاباتو کې درغلي شوې؟ ښه که دا د اعتراف په معنا وي، بیا نو مرتکب یې مجرم دی او که نه دی؟ که مجرم وي، بیا به په دې اړه تحقیقات لویه څارنوالي نه کوي؟

دا منو چې د انتخاباتو کمیسیون خپلواک دی؛ خو غیر مسؤول و واجب الأحترام نه دی، ددې کمیسیون خپلواکي د قانون په چوکاټ کې ده، که د قانون له چوکاټه بهر ګام ږدي، بیا نو هم قانوني مراجع حق لري چې له ګریوانه یې راونیسي او هم هغه ملت چې په رأیو پورې یې ملنډې وهل کیږي.

له بلې خوا زه نه پوهېږم چې دا پړه به دچا پر ولیو وي، چې پیشو د غوښې سرخانه ټاکي؛ سلیم عقل خو دا وایي چې په ځانګړې توګه پر دغسې منصبونو خو باید هغه څوک ونه ټاکل شي چې عمر یې له نورو ډلو، ډلګیو سره په دښمنۍ کې تېر شوی وي. داسې کسان هم ددوی ډلې ته منسوب دي چې تر اوسه "افغانستان " نه مني او ځان ته د اساسي قانون د حکم له مخې چې ددې هېواد هر تبعه "افغان " دی، افغان نه وایي، او متأسفانه دغو کسانو ولسي جرګې ته هم لاره پیدا کړه، او په دغسې یوه بې سرو سامانه هېواد کې به چې هېڅوک هم د قانون تابع نه دي بلکې د هر چا خپله خوښه قانون دی، څوک ددغسې کسانو د اوتوبوتو مخه ونیسي؛ زموږ په هېواد کې قانون شته؛ خو قانون مړ دی او که ژوندی وای نو د انتخاباتو د کمیسیون ان چې ویاند به دا نه ویلای معلوم شي چې لویه څارنوالي څه کولای شي !

متأسفانه اوس په هېواد کې په مطلقه توګه د انارشیزم ډېره بده بڼه حاکمه ده، که له چا سره زر، زور او تزویرو هر څه کولای شي او لاس او جیب یې خالی و، نو بیا دې یې خدای مل شي. په داسې حال کې چې د انتخاباتو کمیسیون له لویې څارنوالی سره ډغرې شروع کړي او اولسمشر هم یوه داسې اعلامیه خپره کړه چې: "ته هم ښه وایې او هغه بد نه وایي "نو پوښتنه داده چې شاکي کاندیدان او یا دهغوی ملا تړي چاته شکایت وکړي؟ د انتخاباتو کمیسیون خو وایي چې څه مې کړي ښه مې کړي، له قانون سره سم مې کړي که څوک څه کولای شي لاس یې خلاص، توره یې تېره، پښتانه وایي چې ښځه درنه قاضي بوتله، قضاوت پر چا کوې؛ اوس د انتخاباتو او شکایاتو له کمیسیونونو نه څه تمه توقع نه شي کیدای، وایي: "تو مرا آغا بګو، من ترا ملا " هغوی خو پخپلو کې سره جوړ دي او هغه مراجع چې باید مراجعه ورته وشي، هغه دادی په وړاندې بې واکه دي، نو شکایت کوونکو ته یوه لاره پاتې ده او هغه داده چې خدای جل جلاله ته صبر وکړي.

زه د یوه افغان په توګه ښاغلي اولسمشر ته وړاندیز کوم چې بیځایه مصلحتونه یوې خواته پرېږدي، او حقایق په پام کې ونیسي او که دا کار ونکړي، دا ټولې ستونزې به ده ته ور په غاړه وي وګورو چې د اوسني بحران په حل کې بالآخره اولسمشر څه کوي، ځکه که بې طرفه پاتې کیږي، خو بحران نور هم غزیږي او که مداخله کوي څه ډول مداخله به کوي، که انتخابات لغو کوي دا دوه، دوه نیم سوه ملیون ډالره به چې پر انتخاباتو ولګیدل څوک ور کوي؟ او که همدغه له درغلیو ډک انتخابات تأییدوي د شکایاتو راپورته شوې بحران ته به څه ډول د پای ټکی ږدي.

د افغانستان پیچلې جګړه د امریکا او ناټو لپاره یوه ستره ننګونه

د افغانستان جګړه اوس داسې یوه مهم او اساس پړاو ته ننوتلې، چې په اړه یې داسې فکر کول، چې دا جګړه به په له لنډه موده کې غلې شي، سم نه دی. ځکه دا جګړه اوس دومره پراخلمنې شوې، چې نژدې د هېواد ګوټ ګوټ ته یې ریښې غځېدلې دي. دا جګړه په داسې حال کې پراخېږي او پراخه شوې، چې اوسمهال په هېواد کې شاوخوا یونیم لک بهرني پوځونه مېشت دي او ورسره د افغان پوځونو د شمېر یادونه هم اړینه ده، ځکه اوس د افغان پوځونو شمېر هم دومره دی، چې هغه د چا خبره ستر ګې ورواوړي. خو تر ټولو مهمه او د فوکس نقطه داده، چې ولې دا جګړه دومره اوږده شوه، علت یې څه دی او ایا دا جګړه به اخر او پای لري او که همداسې به روانه وي؟ دا هغه څه دي، چې ځواب ویل ورته څه اسانه خبره نه ده. خو بیا هم سړی ویلای شي، چې دا جګړه ښایي یوه سیاسي او اقتصادي جګړه وي، چې لوبغاړي به یې نه غواړي، چې وېي دروي او په همدې کې به د ځان خیر وېني. ځکه ناټو او په سر کې یې امریکا پر افغانستان باندې په دې پلمه برید وکړ، چې په دې هېواد د طالبانو واکمنۍ چلېدله او دوی په خپله واکمنۍ کې د امریکایانو په وینا د القاعده لوړپوړي کسان ساتل او پناه یې ورته ورکړې وه او همداشان په دې هېواد کې یې پر نورو بهرنیو هېوادو باندې د برید پلانونه جوړول. په دې توګه دوی د طالبانو پنځه کلنه واکمني ونړوله او په لومړي سر کې یې د شعار په توګه دا خبرې ډنډوره کړې، چې افغانستان به د القاعده له پټنځیونو خلاصوي او همداشان په دې هېواد کې به سوله، بیارغونه او سوکالي راولي. دوی په لومړي سر کې یوه اندازه پوځونه او پوځي تجهیزات راوړل او په افغانستان کې، هغه مهال چې د طالبانو واکمني د دوی او بیا د شمال ټلوالې په ملاتړ ړنګه شوه، ډېره شول. دغو بهرنیو پوځونو ته د سوله ساتو پوځونو نوم هم ورکړل شو او په دې پلمه چې دوی د سولې ځواکونه او سوله راولي، په افغانستان کې یې خپلې هلې ځلې پیل کړې، خو له بده مرغه دوی د سولې پر ځای جګړه راوړه او د سوکالۍ او ارامۍ پر ځای یې بدمرغي او ویراني راوستله. باید ووایو، چې په لومړي سر کې کله چې په افغانستان کې د دوی د پوځونو شمېر لږ و، نو جګړه هم دومره پراخه او ترینګلې نه وه، خو کله چې د دوی په شمېر کې ډېروالی راغی، په هماغه کچه د جګړې لمنه پراخه او جګړه نوره هم پېچلې شوه. په دې توګه دوی د افغانستان په جګړه کې له سختو ننګونو سره مخ شول. په دې جګړه کې د دوی د سختې ښکېلتیا ځو لاملونه هم د یادونې بولو، یو دا چې دوی نه غوښتل، چې دا جګړه دومره پېچلې شي، چې بیا ترې ونه شي وتلای، خو بلاخره په کې ښکېل شول. دوی غوښتل چې جګړه په اسانه وګټي او خپلې اقتصادي او سیاسي ګټې پرته له خنډه ترلاسه کړي، خو داسې ونه شول او د دوی لیدلې خوب دوی ته بل ډول تعبیر شو. بل دا چې په دې جګړه کې د سیمې هېوادونه هم لاس تر زنې پاتې نه شول او د ځان او همداشان د خپلو ستراتیژیکو او سیاسي ګټو په پام کې نیولو سره یې په افغانستان کې مستقیمې او نامستقیمې لاسوهنې پیل کړې او په بېلابېلو نومونو یې په دې هېواد کې د

بهرنیانو او افغان دولت پر ضد تر یوې اندازې په نامستقیمه توګه نظامي او سیاسي فعالیتونه پیل کړل او لا هم دغه ډول فعالیتونو ته دوام ورکوي. بل خبره دا چې بهرنیو پوځونو هم په دې هېواد کې ډېرې داسې کړنې ترسره کړې، چې د عام ولس په زړونو کې یې د سختې کرکې اورونه بل کړل او یا په بله وینا عام ولس یې د ځان دښمن وګرځاوه او د دوی د مخالفو وسلوالو په لیکو کې ولسي رنګ هم راڅرګند شو، یانې ولس هم د دوی د مخالفینو لیکو ته پیاوړتیا ورکړه او په دې توګه د دوی پر وړاندې مخالفتونه د اوج نقطې ته ورسېدل او دا جګړه د دوی لپاره د یوې سترې ننګونې په توګه مخ ته راغله. اوس دا څرګنده نه ده، چې ایا دا جګړه به دوی وګټلای شي او که به په کې پاتې راشي. سره له دې چې امریکا او ناټو ملګري یې په ظاهره د جګړې د ګټلو ادعاوې کوي، خو په حقیقت کې تر اوسه د دې جګړې د ګټلو پر وړاندې لویې ننګونې پرتې دي. او له بلې خوا د دې جګړې په هکله په امریکا او ناټو هېوادونو کې هم منفي غبرګونونه مخ په زیاتېدو دي او ولسونه یې نه غواړي، چې پوځونه یې نور د افغانستان د جګړې قرباني شي.

په همدې حال کې د امریکا دفاع وزارت هم د دې جګړې په هکله په دې وروستیو کې کانګریس ته خپل رپوټ وړاندې کړی او ویلي یې دي، چې د افغانستان په جګړه کې سم او مناسب پرمختګ نه دی شوی او له دې سره سره چې امریکا دې هېواد ته په لسګونو زره نور ځواکونه لېږلي او پراخ عملیات یې پیل کړي، د طالبانو پر وړاندې محدود پرمختګ شوی دی. په دې راپور کې راغلي جګړه او تاوتریخوالی په تېرو نهو کلونو کې تر بل هر وخت زیات و او د افغانستان شخړې په دې وروستیو میاشتو کې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې دي او د وسلوالو مخالفینو فعالیتونه پېچلي شوي دي. نو په دې توګه ویلای شو، تر هغو پورې چې امریکا او ناټو د خپلو ګټو ترڅنګ د افغانستان او بیا د سیمې د هېوادونو ملي، سیاسي او اقتصادي ګټې په پام کې ونه نیسي او همداسې په خپلسرې توګه خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي، نو امکان نه لري، چې داوړې دې شړې کړي او په دې جګړه کې دې خپل برى ترلاسه کړي.

لیکوال: ډاکتر ذاکر نایک
ژباړه او زیاتونه: ډاکتر پامیر احسان

ولې یوه ښځه څو مېړونه نه شي کولی؟

پوښتنه:

دا چې یو سړی حق لري چې څو ښځې وکړي نو ولې په اسلام کې یوه ښځه دډېرو مېړونو دلرلو څخه منعه کړی شوې ده یعنې په اسلام کې ولې polyandry منع کړای شوی ده ؟

ځواب (عمومیات):

پورتنی پوښتنه ډېرو زیاتو خلکو سره شته او پدې برخه کې اسلام تر پوښتنې لاندې راوړي . اجازه راکړی تر څو تر هر څه له مخه په تاکیدو سره ووایم چې د اسلامي ټولنې بنسټ ا واساس عدالت او انصاف دی. الله (ج) ښځه او نر مساوي پیدا کړي دي خو دهغوی وړتیاوې او مسوءلیتونه یو تر بله توپیر لري . ښځې او نران یوله بله سره له فزیولوژي (دبدن ددندو) او سایکولوژي (رواني) پلوه توپیر لري،په ټولنه کې د هغوی رول، په دندې او مسئولیتونه یو له بله سره فرق لري . ښځه او نر په اسلام کې یو برابر دي خو کټ مټ یو شان نه دي. په څلورمه سیپاره ، د النساء سورۀ، ۲۴-۲۲ ایاتونو کې دهغو ښځو یادونه شوې ده چې یو نر نه نشي کولی له هغوی سره واده وکړي او دهمدې سورۀ په ۲۴ ایات کې دا خبره ذکر شوې ده چې ((وَالْمُحْصَنَتُ مِنَ النِسَاءِ =او پرتاسې حرامې دي مړوښې ښځې)).

لاندېنې دلایل دا په اثبات رسوي چې ولې ښځوته په یو وخت له یوه څخه د زیاتو مېړونو د کولو اجازه نده ورکول شوې:

د اولاد پېژندلو ستونزه:

که چېرته یو سړی څو ښځې ولري او اولاد یې پیدا شي نو دنوموړي ولدیابچي پلار او مور په ډېره اسانی سره مشخص کېدای شي خو که یوه ښځه په یو وخت کې څو مېړونه ولري نو د بچي دزېږولو پر مهال به د بچې یا ماشوم مور معلومه وي او پلار به یې ورک وي چې داد چا ماشوم دی؟ داسلام سپېڅلی دین دمور او پلار پېژندنې ته ډېر زیات ارزښت ورکوي . روانشناسان وایي چې هغه ماشومان چې خپل مور او پلار ، په ځانګړي ډول پلار ، ونه پېژني ، د یوې سختې ذهني ضربې او دماغي خړپړ تیا سره مخامخ کېږي او همدا لامل دی چې دفاحشو ښځو څخه زېږېدلي ماشومان روغ او صحتمنده نه وي . که د داسې یو واده په ترڅ کې زېږیدلی ماشوم مکتب ته د شمول په خاطر یوړل شي نو دهغې مور مجبوره ده چې د دوو، یا دریو پلرونو نومونه ورکړي. که څه هم د ساینس او طب او په ځانګړې ډول دوراثت دعلم یا genetic sciense د پر مختګ سره ممکن په داسې حالت کې هم دماشوم پلار مشخص کړل شي خو تاسې فکر وکړی چې څومره وخت او څومره پیسو ته اړتیاده چې دا ډول ازموینې تر سره شي اوپه نړۍ کې څومره خلک دامهال له دغه پرمختللې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستلی شي؟ بې له شکه چې عملاً دا کار ناشونی دی او مونږ یې ناشونتوب په خپلو سترګو وینو هغه داچې نن سبا په غربي ټولنو کې له چا څخه د پلار دنوم پوښتل جرم ګڼل کېږي آن تر دې چې دپلار نوم په مکتب، پوهنتون، پاسپورت او نورو اسنادو کې له خط څخه غورځېدلی دی او ځای یې کورني نوم یا family name نیولی دی. اروپا چې د ساینس په برخه کې نن سبا تر ټولو مخکښه لویه وچه ده ، دایې حالی دې چې د genetic ازموینو پر ځای یې د پلارنوم بیخي ورک کړ ،نو د افریقا او اسیا په شان دورو سته پاتې لویو وچو ځای به په دې برخه کې څه وي.

د نارینه وو زیات میلان:

نارینه نظر ښځو ته طبیعتاً ډېرمیل لري چې له یوه څه زیات ودونه وکړي .

د یوې ښځې لپاره د ډېرو مېړونو ساتنه ناشونې ده:

دنارینه لپاره د ااسانه خبره ده چې د ډېرو ښځو دلرلو با وجود هم دمېړه په صفت خپلې دندې تر سره کړي خویوه ښځه چې زیات شمېر مېړونه ولري نه شي کولی چې دیوې ښځې په حیث خپله دنده تر سره کړي او دا ځکه چې ښځې د خپلې میاشتنۍ دورې د بېلابېلو پړاوونو په اوږدو کې د مختلفو رواني او سلوکي تغیراتو له امله اغېزمنې کېږی او دیوې ښځې په حیث د خپلې دندې دسرته رسونې څخه عاجزې پاتې کېږي.

جنسي ناروغی:

که چېرته یوه ښځه له یوه څه زیات مېړونه ولري او باوجود د دې چې ددوی له جملې څخه یو هم نورې اضافي جنسي اړیکې ونلري، بیا هم په دوی کې د جنسي خپرېدونکو ناروغیو دخپراوې لوړ چانس موجود دی او دا ځکه چې په دی صورت کې یو ښځه ګڼ جنسي ملګري لري خو که یو سړی څو ښځې ولري نو دوی ټول ټول غیرمشروع جنسي اړیکې نه لري نو پدې کې د جنسي ناروغیو دخپریدا چانس ډېر کم او حتی په نشت حساب دی.

پورتنی ورکړل شوې دلایل هغه دي چه ژر د انسان ماغزه پرې خلاصېږي ممکن ډېر نور دلایل به هم موجود وي چې د الله له خوا یو ښځې ته د ډېرو مېړونو حرام والی په ځای ثابتوي.

***

ډاکتر عبدالکریم ذاکر نایک په ۱۹۶۵ میلادي کال کې د هندوستان په ممبي کې زېږیدلی. نوموړي په انساني طب کې لیسانس لري خو د ۱۹۹۱ کال راهیسې یې ځان اسلامي دعوت ته وقف کړی دی. نوموړی په مقارنه ادیان کې د شیخ احمد دیدات له تکړه شاګردانو له جملې څخه دی. دا مهال د اسلامي تحقیقاتو د مؤسسې په نامه دیوې ادارې رئیس او بنسټ اېښودونکی دی چې د نوموړې ادارې په تشکیکل کې د صلحې په نامه یو تلویزوني چینل او یو مکتب هم شامل دی.ډاکتر ذاکر نایک په ګڼو هیوادونو کې د نامسلمو له بېلابېلو ډلو له دیني پوهانو سره مناظرې کوي او په خپلو مناظرو کې ډېر بریالی دی.

له اصلاح آنلاین سایت نه په منني

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
دیزاین خواجه وحیدالله
د کمپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

وزیرانو شورا:

په کابل کې د ګڼې ګوڼې له لامله دپنجشبې ورځ هم رخصتي اعلان شوه

آزادي راډیو:
د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي اداره د وزیرانو شورا دا پریکړه ستایي چې په کابل ښار کې دې د چاپیریال د لا ککړتیا د مخنیوي لپاره د پنجشنبې په ورځو هم عمومي رخصتي اعلان شي.
ددې ادارې د دفتر رئیس خالد نسیمی د سې شنبې په ورځ ازادی راډیو ته وویل، چې په کابل ښار کې هوا ډېره ککړه شوې اود ډېرو کثافاتو د تولید او نقلیه وسایطو او جنراتورونو د موجودیت له امله لا پسې د خرابېدو په حال کې ده.
د ښاغلي نسیمی په خبره د وزیرانو شورا دا پریکړه د نقلیه وسایطو د کم ګرځېدو سبب ګرځي او کولای شي چې په لنډ مهال کې په کابل ښار کې د هوا د لا خرابېدو مخه ونیسي:
(په دې اړه چې د نقلیه وسایطو تګ او راتګ کم شي دغه تصمیم ښه تصمیم دی او دا مستقیما اغیزه کوي د چاپیریال د ښه کېدو لپاره.)
د وزیرانو شورا دا پریکړه د تېرې دوشنبې ورځې په غونډه کې کړې او ویلي یې دي چې د روان لمریز کال تر پایه دې په کابل ښار کې د پنجشنبې په ورځو هم عمومي رخصتي اعلان شي تر څو د نقلیه وسایطو ګڼه ګوڼه کمه او چاپیریال لا ککړ نشي.
په عین حال کې د وزیرانو شورا د کابل ښار له اوسېدونکو نه هم غوښتي چې د دوشنبې په ورځو دې هم شخصي او دولتي نقلیه وسایط کم کاروي او له کابل ښاروالی سره دې د ښار په پاک ساتلو کې هر اړخیزه مرسته وکړي.
د عامې روغتیا وزارت هم د وزیرانو شورا دا پریکړه مهمه بولي او وايي چې له دې سره به په کابل ښار کې د ډېرو ناروغیو د خپرېدو مخه ونیول شي.
د عامې روغتیا وزارت مرستیاله نادره حیات وايي چې دا مهال په کابل ښار کې چاپیریال ډېر او په بې ساري توګه ککړ دی او د ډېرو تنفسي، جلدي او نورو خطر ناکو ناروغیو خپرېدو ته یې زمینه برابره کړې ده:
(زه هیله منه یم ترڅو وتوانیږو په کابل ښار کې د ککړې هوا مخه ونیسو او د خلکو ژوند او روغتیا خوندي کړو.
د وزیرانو شورا دا پریکړه ښه او مهمه ده او هیله لرو چې د تنفسي ناروغیو مخه تر ډېره حده ونیول شي.)
له دې سره سره چې د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې او دعامې روغتیا وزارت چارواکي د کابل ښار د چاپیریال د ککړتیا او د ځینو ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي لپاره د وزیرانو شورا دا پریکړه مهمه بولي خو یو شمېر سوداګر وايي چې له دې سره به په کابل ښار کې سوداګریزه راکړه ورکړه یو څه زیانمنه او د خلکو پر اقتصاد به بده اغیزه وکړي.
خو د عامې روغتیا وزارت او د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې مسوولان د دې اندیښنې په تاییدولو سره وايي چې د کابل د اوسېدونکو روغتیا تر بل هر څه لومړیتوب لري.
په عین حال کې د وزیرانو شورا د کورنیو چارو د وزیر په مشری د سکتوري وزارتونو او ادارو یوې کمېټې ته هم دنده سپارلې ترڅو د کابل ښار د چاپیریال ساتنې په هدف یوه منظمه او هر اړخیزه طرح جوړه او د یوې میاشتې په موده کې دې د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

سعودي عربستان هڅه کوي چې...

کړي ، ویلي چې سعودي عربستان تر هغو چې یوه موافقه کېږي ، د استخباراتي چاینلونو له لارې دا ډول خبرې غوره بولي."
سعودي عربستان په ښکاره دا خبره رد کړې چې دغه هیواد له افغان حکومت یا امریکایي چارواکو سره د افغان طالبانو په خبرو کې رول لرلی دی.سعودي عربستان څو ځلې ویلي تر هغو چې طالبان له القاعده سره اړیکې ونه شلوي دا هیواد نه شي کولی د طالبانو او د هغو د مخالفانو" په خبرو کې منځګړتوب وکړي.
د نومبر په شپږمه د سعودي عربستان د باندنیو چارو وزیرشهزاده سعود الفیصل ټینګار وکاوه چې تر هغو د سعودي عربستان د منځګړتوب امکان نشته چې طالبان ځانونه له القاعده بېل ونه ګڼي او اسامه بن لادن ته د پناه ورکولو فکر له ذهنه لېرې نه کړي.
ځینې افغان کتونکي له سره د سعودي پر رول شک کوي او وايي :که القاعده شبکه زموږ
په سیمه کې ورتل شي ، د هغې غړي یمن ته ځي او نه یوازې د سعودي د دغه جنوبي ګاونډي امنیت ګواښي بلکې سعودي هم له خطر سره مخامخولی شي.د دوی په وینا په داسې یو حالت کې ممکن سعودي چارواکي غوره وبولي چې د القاعده جنګ په افغانستان او پاکستان کې تود وي .
د سعودي په باب د ویکي لیکس په یوه بل سند کې ویل شوي چې د دغه هیواد چارواکو امریکایانو ته ویلي چې پر ایران یرغل وکړي.

احمد ضیاء مسعود معاون سابق ...

دالری به امارات متحده، عربی سفر می کرد که در داخل کشور هموطنان ما از دست گرسنگی ریشه درخت ها را می خوردند و مردم از شدت گرسنگی حتی اولاد خود را می فروختند و هنوز هم این سلسله ادامه دارد مګر دولت کابل همه، این گزارش ها را تکذیب می کند.

قرارداد جدید ترانزیت، ۹۰ در ...

خبری رویترز گفت، آنها نمی توانستند روی انتقال تولیدات هندی به افغانستان پافشاری کنند، زیرا پاکستان به امضای این قرارداد تن نمی داد.
شینواری می افزاید:
"افغانستان همچنین توافق کرده است که تجار پاکستانی با استفاده از شاهراه های افغانستان به کشورهای آسیای مرکزی راه یابند."
صادرات افغانستان به کشورهای مختلف جهان در سال گذشته به چهار صد ملیون رسید و به گفته اتاق های تجارت افغانستان حدود نصف این مبلغ از ناحیه، صادرات میوه خشک و قالین افغانی به هندوستان به دست آمده است.
در این حال برخی از مقامات افغان این قرارداد ترانزیت میان افغانستان و پاکستان را به نفع افغانستان می دانند.
اما وزارت مالیه افغانستان در این مورد نظر متفاوت دارد و به این باور است که این قرارداد بیشتر به نفع پاکستان می باشد.
عزیز شمس سخنگوی وزارت مالیه به رویترز گفت:
«پاکستان از این قرارداد ترانزیت ۹۰در صد و افغانستان صرف ده درصد مفاد می برد.»
وی گفته است:
"تجار افغان، تولیدات زیاد پاکستانی را از مواد خوراکی گرفته تا مواد ساختمانی را وارد می کنند، که سالانه بالغ به چهار ملیارد دالر می شود."
در حین حال افزایش فعالیت مخالفین مسلح دولت و ضعف در کارهای زیر بنای در افغانستان این کشور را بر کمک های خارجی متکی ساخته است.
آژانس رویترز سطح بیکاری را در افغانستان چهل درصد می خواند. برخی کارشناسان اقتصادی و تجار می گویند، بیکاری به مخالفین مسلح دولت افغانستان این فرصت را میسر می سازد تا جوانان را به آسانی در صفوف شان جلب کنند.

کرزی کمزوری سړی، وروړ یې ...

هم که څه مو په کې وموندل نو خپل دریغ به څرګند کړو"
تر اوسه د ویکي له لوري د خپرو شویو اسنادو له جملې ۲۵۰ سندونه د نړیوالو رسنیو یوې ورې ډلې ته په لاس ورغلي. په دغو اسنادو کې د ولسمشر د وروړ احمد ولي کرزي څېره منفي انځور شوې، چې د افغانستان په جنوب کې یو بانفوذ کس ګڼل شوی دی.
په یوه سند کې د تېر میلادي کال د اکتوبر میاشتې جریان رااخیستل شوی، چې په کابل کې د امریکا د سفیر کارل ایکن بیري له لوري یو سند لاسلیک شوی، په سند کې راغلي:
"په داسې حال کې چې موږ باید د کندهار د ولایتي شورا له رئیس احمد ولي کرزي سره تعامل وکړو، نوموړی په اداري فساد او د مخدره موادو په قاچاق مشهور دی."
د بریتانیا چاپ ګارډین ورځپاڼې د یوه پټ سند پر اساس د ولسمشر حامد کرزي په باب ویلي، یو ډېر کمزوری سړی، چې په زیاتو شیانو سر نه ګرځوي، خو په بدل کې که څوک د یوې ډېرې وړې او عجیبې دسیسې په باب ورته رپوټ ورکړي، هغه ورته غوږ نیسي.
په کابل کې د امریکا سفارت د دغو نویو اسنادو خپرېدل غندلي، ویلي یې دي، دغه ډول هڅې به د دواړو هېوادونو پر روابطو تاثیر ونه کړي.
په کابل کې د امریکا سفارت په خپله اعلامیه کې دا هم ویلي چې د کورنیو ډیپلوماتانو په باب راپورونه د امریکا د حکومت د بهرنۍ پالیسې په برخه کې د وروستي تصمیم څرګندونه نه کوي.
د ولسمشر وروړ او د کندهار د ولایتي شورا رئیس احمد ولي کرزي تل دا خبر رد کړی چې ګواکې دی د نشه يي موادو په قاچاق کې لاس لري، دی وايي د ده پرضد تورونه نه دي ثابت شوي.

د ویکي لیکس خپرو شوو اسنادو ...

ویکي لیکس د روسیې صدراعظم ولادیمیر پوتین د روسیې لومړی نمبر سړی معرفي کړی.
په دغو غوغا پاروونکو معلوماتو کې، د روسیې ولسمشر دمیتري مدوېدېف د پوتین تر لاس لاندې سړی معرفي شوی، نه لومړی نمبر کس.
په اسنادو کې ویل شوي، چې د روسیې صدراعظم او د هغه ایټالوی ساری سلویو برلسکوني ډېرې نژدې اړیکې سره لري، دغه راز روسیه په هغو جرمونو کې لاس لري، چې په ایټالیا کې دننه ترسره شوي.
د چین په باب یې هم ځینې پټ اسناد خپاره کړي، چې په پیکنګ کې د امریکا سفارت، د چین پر مشرتابه او د دلي لاما په رهبری د تبت پر اداري د امریکا او نورو متحدینو له کمپیوټرونو د غلاوو د هڅو له کبله شک لري.
په خپرو اسنادو کې ځینې، د سعودي عربستان د پاچا ملک عبدالله په باب دي، چې ویل شوي، هغه له امریکا غوښتي چې پر ایران حمله او د دې هېواد اټومي پروګرام دړې وړې کړي.
په لومړي نړیوال عکس العمل کې، د ترکیې صدراعظم رجب طیب اردوغان د ویکي لیکس له لوري د دغو اسنادو خپرېدل کم اهمیت بللي، نوموړي د دوشنبې په ورځ په استانبول کې په دې باب خبرې وکړې:
"لومړی باید وګورو چې ویکي لیکس څه په لاس کې لري او وروسته موږ دا ارزونه کوو چې ایا دغه خپاره شوي اسناد د باور وړ دي که نه؟
اوس مهال پر ویکي لیکس باور له شکونو سره مل دی. له دې کبله موږ تر هغو انتظار کوو، چې ویکي لیکس د دغو اسنادو د راټولونې په باب معلومات خپاره کړي. وروسته به څېړنه کوو او په اړه به یې خبرې وکړو"
د دغو اسنادو د خپرېدو په باب د امریکا عکس العمل جدي نه ښکاري.
د سپینې ماڼی په اعلامیه کې ویل شوي، چې د دغو اسنادو خپرېدل، نه یوازې امریکایي ډیپلوماتان او کارکوونکي له خطر سره مخامخوي، بلکې هغه کسان چې هڅه کوي یوه پرانیستې ټولنه ایجاد کړي، هم ګواښي.
په اعلامیه کې وړاندې راغلي، د دغو غلا شویو محرمو اسنادو په خپرېدو سره ویکي لیکس یوازې د خلکو حقونو ته خطر نه دی متوجه کړی، بلکې د دی ژوند او کار یې هم له خطر سره مخ کړی دی.
د امریکا د ګډو ځواکونو لوی درستیز امیرالبحر مایک مولین د یکشنبې په ورځ د امریکا له سي، این، این تلویزیون سره په مرکه کې یوه بل خطر ته اشاره وکړه، ویې ویل، د دغو اسنادو خپرېدل د سخت دریځو وسلوالو مرسته کوي، چې د امریکا له پلانونو ځانونه خبر کړي:
"هغه څه چې د ویکي لیکس مشران یې په باب فکر نه کوي دا دي، چې موږ په داسې یوه نړۍ کې ژوند کوو، چې په یوه شبکه کې ډېر لږ معلومات هم زیاتولای شو، داسې مفکوره ایجاد کړو، چې مخکې نه وه ایجاد شوې. د دې کار ادامه خطرناکه ده"
په دغو تازه خپرو اسنادو کې په پراخه کچه د ایران او روسیې نومونه اخیستل شوي دي. د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد د دوشنبې په ورځ په تهران کې یوه خبري کنفرانس ته وویل، د ویکي لیکس د اسنادو خپرېدل سیاسي رنګ لري:
"دغو اطلاعاتو درز نه دی پیدا کړی، په منظم ډول او د یوه پلان له مخې خپرېږي، سیاسي هدفونه تعقیبوي. زموږ له نظره حقوقي اعتبار نه لري. ځکه د امریکا د حکومت ځینې کړی په لوی لاس ځینې اسناد تولیدوي، خپله یې خپروي، په خپله د هغو اسنادو پر اساس قضاوت کوي"
خو د ویکي لیکس ویبسایټ مسوول جولیان اسانژ ویلي دي، چې دغه اقدام ته د حکومت په چارو کې د ښه والي د ایجاد په هدف ادامه ورکوي.
دهٔ د اردن په مرکز عمان کې د یکشنبې په ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل د امریکا په حکومت کې دننه ځینې کسان یې مرسته کوي:
"د امریکا په پوځ کې د راپور ورکولو په برخه کې عمومي تمایل د اندېښنې وړ دی، خو له نېکه مرغه د امریکا په حکومت کې دننه ځینې داسې کسان شته او ځینې کسان غواړي وګوري چې کارونه سم لوري ته روان دي. خلک د دغو موادو په راسپارلو سره غواړي زموږ مرسته وکړي، چې اوږ په اوږه راسره مخکې لاړ شي. دوی دغسې موارد خبریالانو ته هم په واک کې ورکوي"
جولیان اسانژ مخکې ځینې نسخې د امریکا او اروپا پنځو چاپي خپرونو ته په واک کې ور کړي.
یوه خپرونه نیویارک ټایمز ورځپاڼه ده، تمه کېږي د دغو اسنادو یوه برخه ډېر ژر خپره کړي.
ویل کېږي دغو اسنادو د خلکو زیات پام ځان ته اړولی او د نړۍ په زیاتو هېوادونو کې یې غوغا جوړه کړې ده.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو...

د افغانستان ملي اردو او پولیس ډېر سیاسي جوړښت لري او د شینډل کېدو له خطر سره مخامخ دي.
د بحرانونو نړیوال ګروپ لیکي، په افغان حکومت کې اهمال، ضعیف حقوقي نظام او د قانون د حاکمیت په چارو کې کمزورتیا د دې ټولو ستونزو اصلي ریښه ده.
په رپوټ کې راغلي چې د سیاسي بنسټونو لپاره کمې هڅې او د قضایي سیستم په اصلاح او د چارو په سمولو کې کم کار وسله والو او جنایتکارو ډلو دا موقع پیدا کړې چې د سیاسي شخصیتونو په کړېو کې ځای پیدا کړي.
د جنوبي اسیا د هېوادونو لپاره د نړیوالو بحرانونو د اداري مسوله سمینه احمد وايي، له وسله والو سره په روغه کولو کې بېړه به نه د افغانانو په ګټه وي او نه هم د هغو اندېښنو خواب ویلای شي چې د افغانستان د حکومت د کمزورتیا له امله په سیمه او نړۍ کې شته .
په عین حال کې په کابل کې د ایساف د ځواکونو ویاند د دې رپوټ په ځواب کې ویلي چې دوي به د افغانستان خلک او حکومت کله هم یوازې نه پرېږدي.
د چېتهم هاوس ویب سایټ:
د شاهي بریتانیې د نړیوالو اړیکو انسټیټیوټ چېتهم هاوس، په خپله ویب پاڼه په یوه مطلب کې د منځني ختیځ، په ځانګړې ډول د افغانستان او په عمومي ډول د سیمې د وضعیت په ثبات کې د سعودي عربستان پر رول خبرې کړي دي.
د مقالې په یوه برخه کې راغلي، یو شمېر رپوټونه وايي چې د روانې میاشتې په پای کې ښایي په افغانستان کې د بېلابېلو سیاسي ډلو استازي په مکه کې غونډه وکړي.
د لیکوال په باور په دې غونډه کې پر برخې اخیستونکو ډلو د سعودي عربستان په سیاسي او مالي نفوذ سترګې نه شو پټولای.
د مقالې په یوه برخه کې راغلي چې سعودي عربستان له دوو کلونو راهیسې څرګنده کړې او په وروستیو کې یې یو وار بیا تاکید کړې چې دغه هېواد یوازې په هغه صورت کې په افغانستان د سولې په هلو ځلو کې برخه اخلي چې طالبان د ټولو وسله والو جهادي ډلو سره خپلې اړیکې قطع کړي.
د مقالې د لیکوال په باور، د سعودي عربستان دا موقف له پاکستان څخه د دې هېواد له ملاتړ سره په تضاد کې دی، ځکه هغه هېواد په کشمیر کې له داسې ډلو سره ارتباط لري.

آیساف بر ادامه عملیات شبانه ...

افغانستان تاکید می کنند که رییس جمهور کرزی چند روز پیش خواهان کاهش این گونه عملیات از سوي نیروهای بین المللی در افغانستان شده بود. جوزف بلاتز ضمن آن که از آمادګي هاي ناتو براي عملیات در فصل زمستان خبر داد، گفت: آیساف از طرح صلح افغانستان حمایت مي کند.
هم زمان با آمادګی نیروهای آیساف به خاطر اجرای عملیات نظامی بر ضد مخالفان دولت، برخی از آګاهان می ګویند که این اقدام می تواند روی تلاش‌های صلح در کشور اثر ګذار باشد، اما آیساف در پاسخ به این نګرانی‌ها گفته است: در ولایاتي مثل بغلان، قندهار و هلمند که روی مخالفان، فشار آورده شده، آنان بیشتر برای پیوستن با دولت تمایل نشان داده اند.